## فیفا د ولسی جرگی په ټاکنو کي دسرغړونو جزيات په ګوته کړل.
## نیټه : کابل ۲۰ اسد ۱۳۸۹ کال

فیفا یو ملي او بی پر ي ارګان دي چی په هیواد کي د ازادو او عادلانه ټاکنو دترسره کیدو دپاره کارکوي.
فیفا ددولتي مسوولینو ، نړیوالي ټولنی او اړونده ادارو څخه په کلکه غواړی ه غه کسانو چي دټاکنو له قانون او مقرراتو څخه یی سرغړونه کړي دهغوی پرخلاف دی قانوني برخورد وشي او درایی ورکونکو او نوماندانو دامنیت لپاره دی جدي او موثرګامونه پورته کړی شي .
دشنبي په ورځ دټاکنیزی مبارزي دپیل په راپورکی راغلي بعضي نوماندان دټاکنودمبارزی له قانون څخه سرغړونه کوي ، په کاندیدانو اودټاکنو دپروسي په مسوولینو باندی حملی زیاتي شوی او آن تردی چی ښځینه نوماندانوته ګواښونه کیږي.

## نوماندان دټاکنو مقررات په پام کي نه نیسي .

په ټول هیواد کي دفیفا څارونکو راپور ورکړي چه زیاتره نوماندان دټاکنو قوانین په پام کي نه نیسي او ددولتي امکاناتو څخه ناوړه ګټه اخلي .
ټاکنیزي مبارزي په ممنوعه ځایونو ( جوماتونو ،ښونځیو)کي ترسره کوي دفیفا دڅارونکی وایی چه په ځانګړی توګه د بلخ ،دایکندی،فاریاب،غزنی،غور ،کابل،کاپیسا په ولایتونوکي جوماتونه اوښونځي دټاکنو دمبارزي لپاره کا رول کیږي ، دښونځیو استادان خویاد نوماندانو قومیان او یا خپلوان دي ، دتخارپه ولایت کي یوه نومانده چه دښونځي سرښونکي ده زده کوونکي یی د کارتونو داخستلو لپاره د کارتونو د ورکولو مرکزته وړي او په دغه زده کوونکو کي ډیري داسی ماشومانو شتون درلوده چه په قانوني توګه ددی جوګه نه وو چي درایی ورکولو کارتونه ترلاسه کړي په هم دی ترتیب دښونځي ټول استادان اوزده کوونکي یی دیته هڅولي چی دده په ګټه رای واچوي.
لدیکبله فیفا دشکایاتو له کمیسیون څخه غواړی چی دهغه پرخلاف سخت قانونی چلند وکړی چه په ټاکنیزه مبارزه کی له دولتی امکاناتواستفاده کوی او یا دټاکنوله قوانیوڅخه سرغړونه کوی.
فیفا دهیواد له ولس مشر او وزیرانو شورا څخه چی دټاکنو دمبارزی په بهیرکی دی دولتی مسوولینو او والیانو دلاس وهنی مخنیوي وکړي.
دفیفا داجرایی ریس په دی اړه داسي وویل : دشکایاتو کمیسیونو باید په دی ورځو کي زیا ت فعال اوسی ځکه چی په دټاکنو له مقرراتو څخه سرغړونی په ولایاتوکي دکمیسیون له دفترونو سره تړاو لري کمیسیون کولی شی چی دکمیسیون دقانون ماتونکو پرخلاف قانونی چلند وکړي او ټول مخالفین دقانون منګلوته وسپاري.

## ټاکني دټوپک دسیوري لاندی..!

په هیواد کي دولسی جرګي ټاکنی د ترسره کیدوپه دورشل کي دي ورسره دټاکنو له مقرراتو څخه سرغړونی هم په زیاتیدو دي.
دفیفا څارونکی دلوګرپه ولایت کي امنیت وضعیت خراب ارزیابی کړي دجولای په لومړیو ورځوکي دټاکنو په مبارزه کي ګډون کونکي پنځه تنه دنامعلومه وسلوالو لخوا ووژل شول چی په دغه مړوکي دوه تنه ورونه هم وو، وژل شوی کسان دیو نوماند دټاکنو دمبارزی دټیم غړي وو،له دی وروسته طالبانو ددغه ولایت ټولو اوسیدوکو ته اخطارورکړکه هرچا په ټاکنو کي برخه واخسته په دغه سرنویشت به اخته شی ،په هم دی ترتیب د شپی لخوا د شب نامو په واسطه خلکو او نوماندانو ته ګواښ کړی او خلک یی درای ورکولو څخه منع کړيدي.
دننګرهارولایت په یوه سیمه کی طالبان کورپه کورګرځیدلي او خلکوته یی ویلي که دهرچاسره درایی اچوني کارت ولیدل شو دهغه لاس به غوڅول کیږي .

ځايی قومندانان دخپل سرو وسلوالو ګرپونوسره په تړاو درلودلو  په ولس کي نفوذ لري، دغورپه ولايت کي خپل سرو قومندانانو خلکوته ګواښ کړي چې ددوی په خوښه دی دټاکنو مبارزه مخکي بوځي ، دتخارپه ولايت يوقومندان چې ځان يی ولسی جرګی لپاره کانديد کړی خلکوته وعده ورکړي که چيرته  دی بريالی شي په خلکو به وسلي وويشي،   همدغه نوماند خپل  سيال نوماند په دمرګ ګواښ لي دې.

## ښځينه نوماندانی د مختلفو ګواښونوسره مخ دي.

دفيفا څارونکو راپور ورکړي چې ښځينه نوماندانی  په حفاظت او ساتنه کي  له ډول ډول ګواښونو او ستونزو سره مخ دي

په لسو ځايونوکي نوماندان نيغ په نيغه له ګواښ سره مخ دی چې يواځی په نهه ځای ونوکي ښځينه نوماندانی له سترګواښ سره مخ دی،

طالبانودغورپه ولايت کي ديوی ښځينه نوماندی دګواښ پړه په خپل سراخستي    نوموړی نوماندە دګواښونو له امله د غورولايت څخه کابل ته راغلي ده،

په زياتو منطقوکي ښځينه نوماندانی په تليفون کي دناڅرګنده خلکولخوا ډارول کيږي    چی له امله يی دښځينه نوماندانو ورځنی ژوند له ستونزو سره مخ کړی، په جنوب او جنوب شرق ولاياتو کی دښځوپرخلاف ستونزی ايجادول ترسترګو کيږي او ښځينه نوماندانی ددولت دنه پام لکبله سخت سرټکوی.

دفيفا په راپورونو کی دښځو نوماندانو په ساتنه او امنيت ټينګارشوی خوبياهم فيفا د تليفون په ليکه شکايتونه وصول کړی چه يکي د ښځينه نوماندانو امنيت ته چاندان پام ندی شوي.

## دولسی جرګی نوماندان له امنيتی ځواکونو څخه نا اميده شول.

ټول ښځينه او نارينه نوماندان د امنيت په برخه کي دامنيتی چارواکو څخه سرټکوی او دسختی نااميدی اظهارکوي ، په بعضی ولايتونو کی امنيتی چارواکی يواځی دهغه نوماندانو په خدمت کی دي چی دقدرت خاوندان دي.

دننګرهارپه ولايت کی دولسی جرګی يو نوماند سره دوه موټره پوليس ګرځی او دنورو سره يو پوليس هم نشته  په همدی ډول دجوزجان په ولايت کی هم دپوليسو لخوا غيری عادلانه برخورد ترسترګوکيږی.

دغورپه ولايت کي هم دزورخاوندان دځانګړو نوماندانو لپاره کارکوی آن تردی چی دهيواد وسلوال ارګانونه هم په علنی توګه دخاصو نوماندانو حمايت او ملاتړکوي   . ددغه ډول همکاريو راپورونه دفيفا دڅارونکو لخو په کابل ، جوزجان،پکتيا، سمنګان،او تخارپه ولايتونوکی هم   درج شوی دی.

دنوماندانو په وړاندی ګواښونه اوستونزی مخ په زياتيدو دي نو لديکبله له امنيتی چارواکو او زارت داخله څخه تقاضاکوو چه ګواښل شوی نوماندانو دګواښونو تحقيقات دی وکړی او         د ټولونوماندانودی يوشانته امنيت تامين کړی   ځکه چی په هيوادکی راون امنيتی وضعيت د ډ    اډ وړندی.

داړيکولپاره :
دافغانستان دازادو او عادلانه ټاکنوبنسټ
شيرمه ناحيه
دکورشميره ۳۴۸
دتليفون نمبر: 0799225841
بريښناليک : Media@fefa.org.af